## د میندو او پلارونو واک

د مور او پلار اقتدار هغو ژمنو اړ حقوقو به راجع کیږی چه دواره مور او پلاریی د ماشوم دی زیږ دو لومری ورځ څخه بیا تر د اته لس کلنی پوری د هغو پر وراندی لری.
د میندو او پلارونو حقوق او واکونه په لاندی ډول دی

- دماشوم ساتنه
- له هغو څخه روزنه
- دهغو روحی او جسمی ساتنه
- دهغو له امنیت او سلامتیا څخه داد تر لاسه کول
- هغوی ته ښونی او روزنی برابرول
- دهغو له ساتنی او روزنی څخه ډاډ تر لاسه کول
- هغوته د خوړو برابرول

د میندو او پلارونو اختیار او واک د ماشومانو د جسمی او روانی پرمختګ په نظر کی نیولو سره عملی کیږی، دماشوم په اره پریکړه باید په ډیر ښه او دهغو په ګټه او دهغو حقوقوته په درناوی سره ونیول شی.

## د پام ور ملاحظات

له ماشومانو څخه د هغوی د مور او پلار او مسول سرپرستانو له خواه په ساتنی او روزنی کی د نشتون په صورت کی د رفاهی خدماتو اداره کولی شی مداخله وکړی. هغه چلند یا اقدامات چه د رفاهی اداری مداخلی ته زمینه برابر وی عبارت دی ( د ماشوم یواځی پرښیکول بی پامی ، نامناسبه چلند او بی پامی هغه ماشوم ته چه د سلامتیا او چلند له ستونز سره مخامخ دی. د یو ماشوم امنیت هغه وخت له خطر سره مخ کیږی چه ماشوم ښونځی عمریی پوره کړی او ښوونځی ته نه ځی.او یا د یو نا معلومی او اوږدی مودی پوری له کور نه تښته کوی.

## دمیندو او پلارونو واک د جلاکیدو او یا طلاق وخت کی

د جلاکړلو او طلاق په صورت کی بر ځیره پر دی چه د ساتنی او خوندیتوب تړون د والدینو تر منځ موجود وی. دواړه یعنی مور او پلار بشپړ حق او څواک پرخپلو بچیانو باندی لری. که چیری مور او پلار د بچیانو د راتلونکی په هکله موافق نه وی هر یو ددغو والدینو څخه د دادغوښنی حق پر قاضی لری. جه د کوچینی په ګټه پریکړی کیږی.

## دمیره ښځی او کورنی ترمنځ د تاوتریوالی قوانین

د کانادا او کبک قوانین خلک له ټولو تاوتریخوالی او ناوړه ګټه اخیستنی څخه ساتنه کوی. او دغه قوانین د میره ، ښځی او کورنی ترمنځ د تاوتریخوالی په هکله د تطبیق وړدی. کورنی تاوتریخوالی جرم شمیرل کیږی چه د کانادا د جنایی قوانینو لاندی څیرل کیږی لکه

## دفزیکی او جنسی زوورولو اړوند جرایم

- بریدکول (د څواک کارول دنورو د زیان رسولو لپاره SS.265-268)
- انسان تښتونه او اجباری سزا( په زور بندول S.279)
- دیو څوان کس تښتول (SS.280-283)
- وژنه، هڅه د وژنی لباره او د ماشومانو وژنه-SS.229) 231)
- جنسی تیری( په زور د جنسی اړیکوتینکول په هغه صورت کی چه د دواړو رضایت نه وی-SS.271) 273)
- د ماشومانو برنوګرافی(S.163.1)

## د روانی او عاطفی جرایمو د ازار او اذیت چه اړه

له داسی کلیماتو او کړنو څخه کټه اخیستنه چه انسان د کنترول لاندی او یا غیر انسانی شمیرل او محرومیت لاندی راولی

- جنایی آزار او زورونه (S.264)
- ګواښول ( S.264.1)
- تیلفونی اړیکی په زور او له نزاکت څخه لری ( S.372)
- د شپی تیری
- شرجوړول او بی نزاکتی

## دکورنی د بی خبری له کبله جرمونه

- د ژوند د لومرنی اسانتیاو نه برابرول ( S.215)
- د اشومانو پریښودل ( SS.218)
- جنایی لټوب ( هغه کارونو چه د شخص د سلامتیا ته ګواښ وی او د مرګ لامل یی ګرځیی (S.219-221)

## په کورنی کی د مالی جرایمو څخه ناوړه ګټه پورته کول

- غلا (SS.322,328,330-334)
- تقلب (S.380.1)
- له پیسو څخه ناوړه کټه پورته کول (S.332)
- غلا او جعل په کریدت کارتونو کی (S.342)
- یو شی په زور اخیستنه (S.346)
- په اسنادو کی جعل کول (S.366)

*Traduction: Khalid Safi et Saleema Azizi

table de concertation
des organismes au service
des personnes réfugiées et immigrantes
TCRI



# ملاتړ
# دکورنی په زړه کی

کتاب ګوتی د فدرال قانون او کبک قانون د واده، طلاق، بلنه، د میندو او پلارونو واک ، میره ښځه او کورنی ترمنځ تاوتریخوالی اړوند معلوماتو وتونکی ده. دغه ویل شوی معلوماتو نه مکمل دی او یو ښه قانونی مشاور نه شی کیدل. نو توجیه کیږی چه لا زیاتړ معلوماتو اخیستلو لپاره اړوند مراجعوته او یا قانونی مشوره ورکوونکو ته مراجعه وکړی

www.educaloi.qc.ca
[www.justice.gouv.qc.ca](www.justice.gouv.qc.ca)
*www4.gouv.qc.ca*

Ministère de la Justice Canada
Department of Justice Canada

## د بشر حقوق او د جنسیتونو ترمنځ یوالی اصل

د حقوق بشر پرنسبت د کانادا د قانون سیستم د ښځي او نارینه ترمنځ د ازادی او یوالی پر اصل ولاړدی. په کانادا او کبک کی دښځو او نارینه حقوق سره برابر دی.سر بیره پر دی دښځو پوره ګډون د (سیاسی ، مدنی ، اقتصادی ، فرهنګی ، او تولینیز چاروکی) همدارنګه دنژادی تبیض نشتوالی د کانادا د دولت له مهمو حق څخه بلل کیزی.

## واده کول

هغه کسان چه مشترک عقد او واده په واسطه تر سره کوی، د قانون له نظره برابر او مساوی ګڼل کیږی. دتولو ممالکو د قانون له نظره ښځه او میره د مشترک ژوند پریکړو کی او د کورنی به جوړولو کی له برابر حقوقو څخه برخه مندوی.دوی د خپلو اولادنو پر وراندی ګده مسولیت لری. ماشومان پرخپلو مور او پلار باندی حق او ګډ مسولیتونه لری.

## په کبک کی د واده کولو لپاره پنځه شرایط په نظر کی نیول کیږی

۱ـ لږ تر لږ اته لس کلن اوسی . که چیری عمریی شپارلس کاله وی په دی وخت کی د مور او پلار په اجازه د قانون پر وراندی واده کولای شی. تر شپارلس کال نه مخکی واده کول غیر قانونی بلل کیږی.
۲ـواده کول د دوه کسانو تر منځ صورت ونیسی. د دوو ښځو او یا دو ښځو درلودل په کانادا کی غیر قانونی بلل کیږی.
۳ـ ښځه او یا میړه نه شی کولای په همدغه وخت کی په رسمی بڼه له بل چا سره واده وکړی
۴ـراتلونکی ښځه او میړه هیڅکله له نزدی خپلوان لکه (مور ، پلار ، خور، ورور ، زوی ،لور ، نیکه او نیا ) څخه اونه اوسی
۵ـ کله چی یوه ښځه او میړه د واده کولو پریکه کوی ، د دواړو خواه څخه باید روښانه او ازادانه رضایت موجود وی. په زوره واده کړل منع دی .

واده د قرارداد د رسمی کولو لپاره یادول شوی سند په رسمی بڼه د مدنی قانون په ماخذکی د دوه رسمی شاهدو په شتون سره ثبت کیږی.د دوو کسانو تر منځ اوګډ له رسمی واده څخه پرته عین شرایط نلری. دپورته معلوماتو په هکله مهربانی وکری د دغوو مراجعوته مراجعه وکری.

## له هیواد څخه بهر واده او د کانادا څخه بهر اتباعو سره واده کول

پرته له دی څخه چه واده کوم ځای تر سره شوی دی ، په کبک کی میړه او ښځه د قانون له مخی رسمی بلل کیږی . د هغو ودونو لپاره څه دی هیواد څخه بهر تر سره شوی دی باید د هماغه هیواد له خواه په رسمیت وپیژنل شی . او د کبک ټول مقررات په کی مراعات شو وی. توصیه کیږی هغه د واده اسناد چه له هیواد څخه بهر جور شوی دی د کبک په مدنی قوانینو کی ثبت شی .

## بلنه یا ضمانت

خاص شرایطو تر لاندی یو کانادایی او یا هغه کس چه دکانادا د تل پاتی سند لری ، حق لری چه خپل د کورنی غری لکه ( مور ، پلار ، خاوند ، او یا هم هغه ماشومان چه خپل قانونی عمریی نه یی پوره کړی را ویلی. بلنه نږدی شا و خواه دری کاله وخت نیسی. دیو کس بلنه د هغه سن او عمر ، کورنی قرابت له مخی توپیر لری. بلونکی د بلل شوی کس پر وړاندی د تاکل کل شوی وخته پوره مکلفیت لری. حتا که په همدغه موده کی بیل او یا هم طلاق هم واخلی. که چیری د کورنی یو غړی را و بلل شی، بلونکی کس د بلل شوی کس د لومړینو احتیاجاتو مسولیت پر غاړه لری. ( د خوړو ، جایی ، کور ، او ځینی نور او نور اړتیاوی)همدا رنګه بلونکی په وارسیدو په هکله ټول اساسی او ضروری معلومات او لاربښونکی بلل شوی کس ته ورکوی. د کبک د قانون پر بنسټ بلونکی کس د بلل شوی کس مسولیت همدارنګه د بلل شوی کس ټولو روحی او جسمی ارتیاوته درناوی ورکری. د اړیکو د خرابیدو په حالت کی بلونکی کس د ویتلو حق له کانادا څخه نه لری. په دی معنا چه لږ تر لږ دوه کاله سره یو ځای ژوند وکری ، که چیری په دهغی موده کی میره یا ښځه د کورنی د تاو تریخوالی یا بی پامی له وجه نه خپل میړه څخه جلا کیږی. بلونکی یا بلل شوی کس د دغوشرایطوڅخه معاف شی.تاوتریخوالی او یا هم بی پامی کولی شی پر ماشومانو او یا نزدی کورینیو باندی بده او منفی اغیره وکړی.

## طلاق او یا بیلوالی

یوه قانونی واده کولی شی چه د طلاق او یا هم د میړه او یا د ښځی د میرینی له وجی نه ختم شی. یوه واده فسخ ګڼل کیږی کله چه د کبک ټول شرایط پکی لکه( قانونی عمر ، د دواړو خواه رضایت ، او داسی نور ) په پام کی ونیول شی. د طلاق اخیستلو لپاره ښځه او یا میړه له طرفینو موافقت ته ارتیا نه لری. که چیری یو له طرفینو څخه ښه عایدات ونه لری نو دوی دحقوقی کمکونو او وکیل د پیسو وکړی لپاره د بل طرف څخه د مرستی غوښتنی حق لری. د طلاق په وخت کی جایداد په مساوی ټوګه د دواړو تر منځ ویشل کیږی حتا که په طلاق کی د میره او ښځه د دواره خواه موافقه موجود وی دوی به یو ګډ فورمه ډکوی تر څو د دغه جایدات ویش دوی ته اسان شی. خو بیا هم لاندی دری شرایط په نظر کی ونیول شی.
۱. ښځه او یا میره چه لږ تر لږ دیوی کال په موده کی د خاوند او میرمن په ټوګه ژوند نه وی کړی که څه هم د یو چت ترلاندی ژوند هم کاوی.
۲.چه یو د زوجینو ښځه یا میړه مرتکب د کورنی په خیانت شو وی
۳. یو له طرفینو څخه ښځه یا میړه قربانی د جسمی او یا د دماغی ظلم یو له بلی خواه څخه شوی وی او یا هم د کورنیو تاوتریخوالی

## د ماشومانو ساتنه له بیلیدو او یا د طلاق څخه وروسته

له بیلیدو یا طلاق څخه وروسته ماشومان د ساتنی حق مور او پلار د دوی د ساتنی مسولیت پر غاړه لری. په کبک کی د ماشومانو ساتنه په روښانه بڼه معلومه شوی دی. قانون مور او پلار یو پر بل باندی ترجیع نه ورکوی. د ماشومانو د ساتنی پر سر د مور او پلار ترمنځ موافقت د نشتون په صورت کی قاضی د مور او پلار د شرایطو د نظر په نیولو او د ماشومانو د ګټی پر بنسټ پریکره کوی.

## د طلاق په وخت کی د جایداد ویش

هر هغه اوسیدونکی د کبک چه په قانونی بڼه یی واده کړی وی د خاوند او میرمن ، له طلاق څخه وروسته د کورنی میراث دیوی برخی حق لری. پرته له دی که دغه خاوند او میرمن کوم مشترک ماشوم ولری یا نه . په دغه کورنی میراث کی هغه کلیدی دارایی شامیلږی چه په کبک کی موقیعت ولری او یا د ګډ ژوند په موده کی راټول شوی وی. چه دا دارایی ګانی لکه کور، دکور وسایل ، او نقدی پیسی هغه اموال چه د کورنی میراث په ویش کی نه شامیلږی لکه ( میراث له واده تر مخه فردی دارایی، هغه تجارت د ښځی او میړه چه له واده ترمخه موجود وه) که څه هم ښځه یا میړه په کبک کی یو له بل څخه طلاق واخلی او د دوی واده له کانادا څخه بهر ترسره شوی وی. په دی دواړه حالتونو کی د کورنی میراث پر دوی باندی تطبیق کیږی. البته دا باید په پام کی ونیول شی چه د میراث ویش حق د دواړو هیوادونو د قانون په مطابق تر سره شی. لنډه دا چی د کورنی میراث ویشولو قوانین ډیر پیچلی ده نو جدا ټولو ته دا توجیه کیږی چه لا زیاتو معلوماتو لپاره د حقوقی مشاورینو سره اریکه تینګه کری.

## د طلاق د قوانینو تطبیق د کبک د ننه او بهر

هغه طلاق چه له کبک څخه بهر تر سره شوی وی نو حتمی نه وی چه په رسمی بڼه په کبک کی ومنل شی. همدا رنګه کوم طلاق چه په کبک کی سرته رسیدلی وی نو حتمی نه وی چه له کبک نه بهر دمنلو وړ وګرځی. همدا رنګه ضرورت ده چه د حقوقی مشاورینو په لټه کی اووسی تر څو دواړو خواه ګټه په پام کی ونیول شی. په خاصه ټوګه هغه طلاقونه چه ډیر لانجن وی. د یادونی وردی چه د بهر ممالکو قضایی مسایل یواځی د واده په هکله دی. او دغه قضایی مسایل په کبک کی د ماشومانو پر ساتنی او د دارایی پر ویش کومه اغیره نه لری. که څه هم طلاق په بهرینو هیوادونو کی خپل وروستی مراحل تیر کړی وی. د کورنی او ماشومانو د ساتنی په هکله یواځی د کبک قوانین د اعمال وربلل کیږی. به هر صورت مور او پلار باید مراقب وی که چیری یو له دوی څخه په پټه ټوګه له خپل ماشوم سره بهرته سفر کوی نو دغه ښځه یا میړه په راتلونکی کی د ماشوم د ساتنی له حق څخه بی برخی کیږی. د کانادا په قانون بهرینو هیوادنو کی صدق نه کوی. او دا به ډیر ستونزمنه وی چه یو ماشوم بیرته کانادا ته راوګرځول شی.

## نفقه او له ماشومانو څخه ملاتړ

دښځی یا میړه بیلوالی یا د طلاق په وخت کی له ماشومانو څخه د ملاتر موخه د دوی د اقتصادی ستونز و رفع کول دی. اودا باید ترلاسه شی چه د یو ماشوم اساسی اړتیاوی په پوره کیږی.یو له طرفینو څخه ښځه یا میړه کولی شی د خپل ماشومانو د ساتنی لپاره یو له بل څخه ( د نقد پیسی، خوړو، کور، د سلامتیا بیمه او داسی نو شیان ) غوښتنه وکړی.

## د ماشومانو حق او د مور او پلار اختیار

په کانادا کی ماشومان د لویانو په څیرله برابری او خاصی ملاتر څخه برخه مندوی.څکه چه هغوی زیان مند ګڼل کیږی. د ماشوم روزنی ، ساتنی، زده کره او څارنی مسوالیت سیده اریکه له مور او پلار او هغه کس چه له ماشوم نه ساتنه کوی لری. ( د ځوانانو څخه د ساتنی قانون (Ch. II, Article 2.2